مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۱۰/۲۳

# درد آشنا

په دردونو یم، آشـــــــــــنا
زخمــی زړنـــــو، لره، دوا

چي په لار وي، غلـــــط شوي
زه د هـــــــغو یم، راهنـمـا

په رموز د عشـــق به پوه شي
څوک چي کښیني، زمـا په خوا

زه یي ګورم په ضـــــــمیر کې
که تیـــــــــاره وي، که رڼا

بیـــــــدردان کلـــــه رسیږي
د زړه ســـــــواندي، په وینا

په تندي کــــې یي زه، لولــم
چــي پــه زړه کې یي وي ژړا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ